# تکل او د ډاکټر اسرار تکل نګاري

## An Analysis of Takal (essay) writing of Dr. Israr

ډاکټر جاوېد اقبال*

**Abstract**:
Takal writing has been introduced to Pashto literature in modern period. Dr. Israr has earned great fame in Pashto Takal writing and formally promoted the said literary genre in Pashto literature. Writer of this paper has critically analyzed the assorted aspects of Pashto Takal writing, its characteristics, elements, evolution and many other aspects. The writer has investigated the assorted aspects of Dr. Israr's takal writing, its merits and demerits. This article on the basis of valid arguments resolves the complicated literary differences of opinions among literary circles regarding takal writing and its elements with respect to Pashto literature.

ډاکټر اسرار د موجوده عصر يو داسې ليکوال دی چې د ادب په مختلفو صنفونو او اړخونو يې قلم چلولی دی او خپل نوم يې ځلولی دی. هغه د پښتو يو نوميالی شاعر او نثر نګار دی. په شاعرۍ کښې يې د نظم او غزل دواړو مېدانونو کښې خپل انفراديت او اهميت ښودلی دی او په نثر کښې يې علمي، تحقيقي او تنقيدي ليکونه مخې ته راغلي دي خو په ځرګنده ډول يې نوم د تکل (انشائيې) په ميدان کښې ممتاز کړی دی. د هغهٔ د تکلونو يوازينۍ مجموعه د "د تکل په تکل کښې" په کال 1994ء کښې د اولسي ادبي ټولنې مردان له خوا چاپ شوې ده چې ښاغليو ګل محمد بېتاب، لطيف وهمي، محمد اقبال اقبال، پرېشان داودزي، پير ګوهر، رحمت شاه سائل او محمد همايون هما پرې د خپلو خيالاتو او تاثراتو اظهار کړی دی. ډاکټر اسرار دا ټول تکلونه د مختلفو خاص موقعو لکه د کتابونو د مخ کتنو د دستورو دپاره، د ادبي تقريبونو او مشاعرو په مناسبت او ځنو نورو مخصوصو ادبي موقعو په مناسبت ليکلي دي چې د کتاب د چاپ کېدو نه مخکښې په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوي دي او بيا په کال 1994ء کښې ورته کتابي شکل ورکړی شوی دی. ډاکټر صاحب د دغه کتاب نه وروسته تکل ليکلو ته توجه کمه شوې ده. د کتاب نه پس د هغهٔ يو تکل د "تېز تکل" په نوم په تلوسه مجله کښې چاپ شوی دی. دې نه علاوه يې يو بل تکل "د مجنون په نوم خط" ليکلی دی. ذکر شوی تکل يې د ساهو ليکونکيو مرکه کښې تنقيد ته پېش کړی ؤ. خو په مجموعي توګه د ډاکټر اسرار د تکل نګارۍ اصلي جوهر په هم دغه کتاب "د تکل په تکل کښې" کښې په نظر راځي.

---

* Assistant Professor, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta.

د ډاکټر اسرار صاحب په دې موجوده تکلونو کښې دوې غټې خبرې زمونږ تر نظره کیږي چې دلته یې جائزه اخلو هغه دوې خبرې دا دي:

(1) تکل څۀ شی دی؟

(2) د ډاکټر اسرار تکلونه

تر ټو چې د وړومبی خبرې تعلق دی چې تکل څۀ شی دی؟ نو د دې خبرې اعتراف او وضاحت په کار دی چې پښتو کښې د تکل نه خو کوم واضح او د تکل صنف ته نزدې او برابر تعریف شوی دی او نۀ په پښتو کښې د اوچت معیار تکلونه لیکلي شوي دي. البته دومره وئیلی شو چې د شلمې صدۍ په وړومبیو لسیزو کښې چې کاکاجي صنوبر حسېن، راحت زاخیلي، مولانا عبدالقادر، امیر حمزه شینواری، ماسټر عبدالکریم، عبد الخالق خلیق او ټو نورو لیکوالو کوم مضمونونه لیکلي دي هغه د تکل جوړښت ته ډېر نزدې دي. د دغو مشرانو لیکوالو نه پس چې د تکل د نوي جوړښت او اعلٰی معیار په نظر کښې ساتلو نه پس چا پښتو کښې باقاعده تکل نګاري کړې ده هغې کښې د ټولو نه اوچت او ممتاز نوم د ډاکټر محمد اسرار دی.

تکل څۀ شی دی؟ په دې حقله په علمي مباحثو کښې په پښتو کښې خو ډېر وضاحتونه نۀ شته البته په انګرېزي او اردو کښې د دې صنف په جوړښت، مزاج او تعریف ډېر څۀ وئیلي شوي دي، ډاکټر اسرار دا کمال کړی دی چې دغه اکثر لیکونه یې لوستي دي او د تکل په خواږه او ساده پېرایه کښې یې هغه علمي مباحث بیان کړي دي چې ډېر په اسانه ترې د تکل د صنف کړۀ وړۀ را مخې ته کیږي. د ډاکټر صاحب کتاب کښې شامل وړومبی تکل "د تکل په تکل کښې" په هم دغه موضوع دی. دې نه مخکښې چې د ډاکټر اسرار صاحب د دغه تکل په حواله مونږ د تکل په صنف او جوړښت خبرې وکړو وړومبی د تکل په حقله د پښتو لیکوالو عام تاثر ته اشاره کول هم ضروري دي او بیا د تکل تعریفونه چې د انګرېزي او اردو لیکوالو کړي دي د هغې موازنه د ډاکټر اسرار تعریفونو سره کوو، لکه چې وړاندې ورته اشاره شوې ده چې پښتنو لیکوالو کښې د تکل د تعریف په لړ کښې صحیح او واضح بیان په نظر نۀ راځي بلکې عمومي تاثر دا دی چې په کوم نثري لیك کښې لطیفي، ټوقې ټقالې او مزاحیه خبرې وي نو زمونږ لیکونکي یې د تکل صنف ته ورګډوي، خو دا تاثر درست نۀ دی، دغه تاثر ته ښاغلي ګل محمد بېتاب د ډاکټر اسرار د کتاب په ابتدائي خبرو کښې هم اشاره کړې ده هغۀ لیکلي دي چې:

"یو داسې مضمون یا لیك چې د طنز و مزاح نه علاوه نور هیڅ مقصد نۀ لري ته تکل وئیل زیاتی دی، خو دلته عموماً داسې شوي دي چې څۀ ټوقې ټقالې را جمع کړې شوې او د تکل نامه ورکړې شوې ده. یا چې د چا په زړۀ څۀ راغلي دي هغه یې لیکلي او چې په هیڅ تعریف هم پوره نۀ دي ختلي،

نو د تکل نامه يې ورکړې ده. خو داسې نۀ ده بلکې تکل باقاعده د ادب يو صنف دی چې خپلې قاعدې او اصول لري خو پښتنو ليکونکيو دې اړخ ته ډېره کمه توجه کړې ده"(1).

لکه څنګه چې د تکل د تعريف په حقله ځنې پښتانۀ ليکونکي د ابهام ښکار دي دغسې د تکل د نوم او پښتو کښې د تکل ابتدا هم پښتنو ليکونکو کښې د تنازعې نه خالي نۀ ده. د تکل د تعريف په بنياد خو د پښتو ځنې داسې ليکونه چې د شلمې صدۍ په ابتدائي دور کښې کاکاجي صنوبر حسېن مومند، راحت زاخيلي او ځنو نورو ليکونکو کړي دي، هم د تکل په صنف کښې شاملېدی شي البته د تکل نوم باندې پښتانۀ ليکوال متفق دي چې دا نوم په کال 1955ء کښې د اولسي ادبي جرګې په يوه تنقيدي غونډه کښې دې صنف ته ورکړی شوی دی چې په بنيادي توګه د ارواښاد دوست محمد خان کامل مومند بخښنه ده، دغه ټول پس منظر هم ډاکټر اسرار په خپل تکل "د تکل په تکل کښې" کښې بيان کړی دی، د دغه طويل بحث په ځای مونږ دلته د ډاکټر حنيف خليل يوه حواله را اخلو چې د دغه بحث خلاصه په کښې بيان شوې ده هغه دې لړ کښې ليکي:

"جدید شکل تب سے نمودار ہونے لگی جب سے اولسی ادبی جرگہ کے شرکاء نے 31 جنوری 1955ء کی ایک نشست میں اس صنف کا نام تکل رکھا اور اس کے خدوخال واضح کئے. مذکورہ اجلاس میں جب افغانستان کے عبدالحی حبیبی نے اپنی نثری تحریر "ازادي کوم ځای ده؟" (آزادی کہاں ہے) تنقید کے لئے پیش کی تو سب سے پہلے اس تحریر کے صنفی تعین پر گفتگو ہوئی. لطیف وہمی، قلندر مومند، مہدی شاہ مہدی نے اس تحریر کو ادب لطیف کہا لیکن دوست محمد کامل نے انشائیہ کے خدوخال واضح کرتے ہوئے اس کو انشائیہ کہا اور انشائیہ کے لئے پشتو میں "تکل" کا نام تجویز کیا. اس وقت سے لے کر آج تک پشتو میں انشائیہ کو "تکل" کے نام سے یاد کیا جاتا ہے"(2).

ډاکټر حنيف خليل چې د اولسي ادبي جرګې د 31جنوري 1955ء د کوم اجلاس ذکر کړی دی هغه درست نۀ دی اصل کښې دغه اجلاس په 14 جنوري 1955ء کښې د حمزه بابا په صدارت کښې شوی ؤ په دې حقله ډاکټر زبېر حسرت داسې معلومات راکوي:

"14جنوري 1955ء، ځای د جرګې عارضي دفتر، صدارت، امير حمزه خان شينواری، تنقيد ته پېش شوي مواد، د تېر اجلاس روداد، د همېش غزل او د عبدالحی حبيبي مضمون "ازادي کوم ځای ده؟" روداد ليکونکی لطيف وهمي.

شرکت کوونکي: دلسوز، فيضي، طوفان، ناصر، کامل مومند، جاوېد مظفر، حمزه، همېش، قلندر، فنا، سليم، مهدي، افضل خان، طاهر، حبيبي، وهمي او د سي آئي ډي يو تن"(3).

ډاکټر اسرار صاحب په خپل تکل کښې د يوې غلط فهمۍ ازاله کړې ده او هغه دا چې ښاغلي قلندر مومند او د هغۀ معتقدينو دا تاثر عام کړی ؤ چې د اولسي ادبي جرګې په اجلاس کښې "انشائيه" دپاره د تکل نوم قلندر مومند تجويز کړی ؤ، ډاکټر اسرار صاحب د دغه تاثر ترديد کړی دی، ډاکټر صاحب په خپل مخصوص انداز او خواږه لهجه کښې ليکي:

"نو داسې څۀ مخصوص قسم له غوښت پيدا کول غواړي چې بنده پرې په اسانۍ سره ادبي مرز (تکل) معلومولی شي، د دې ادبي غوښتو په تکل تکل کښې زۀ تر قلندر مومند ورسېدم ورته مې ووئيل چې دا تکل ټکی په ادبي اصطلاح کښې په وړومبي ځل چا استعمال کړی دی؟ هغۀ په خپل مخصوص انداز کښې ځان ته اشاره وکړه چې "دا دې ناچيز" زۀ ډېر خوشحاله شوم چې که خبر وي د ګدن يوه دانه مې وموندله، هغۀ دا هم و وئېل چې وروستو زما ذهن ته بيا د دې نه هم يو ښۀ ټکی هڅه راغلې وه، خو بيا مونږ دا د تکل نوم بدلول مناسب و نۀ ګڼل او "هڅه" هسې پاتې شوه، ما چې ورته فکر وکړو نو د معنٰی د يو شان والي سره سره د پښتو د هڅې د عربي د السعي او انګرېزي د اېسې صوتي لحاظ سره يو شان والی هم د پاملرنې وړ دی، خو وروستو راته وهمي صاحب ووئېل چې زما په خيال دا ټکی کامل صاحب را ايستی دی، زړۀ کښې مې ووئېل چې يوه دانه په لاس راغلې وه هغه هم شکي شوه، بيا مې د همېش خليل صاحب نه پوښتنه وکړه هغۀ وخندل وئېل يې دا کامل صاحب".(4).

د دغه بيان نه پس د سيف الرحمان سليم صاحب په وينا د خپل موقف تائيد او د قلندر صاحب د غلط بيانۍ تصديق کوي او ليکي:

"په دې سودا کښې وم چې سليم صاحب مې وموندو راته يې ووئېل چې دا نوم د اولسي ادبي جرګې په يوه غير رسمي ناسته کښې کامل صاحب وړاندې کړی ؤ او قلندر مومند ورسره اتفاق کړی ؤ، مطلب دا شو چې دا نوم پښتو ادب ته د اولسي ادبي جرګې د نورو بخښنو غوندې يوه قيمتي پېرزوينه ده"(5).

اوس دې ته راځو چې ډاکټر اسرار صاحب د تکل تعريف څنګه کوي او په عالمي ادب کښې د تکل تعريف څنګه شوی دی، وړومبی د عالمي ادب نه څو حوالې پېش کوم او بيا به د ډاکټر اسرار په حواله د دغو حوالو تصديق او د ټولو نه اسان او زړۀ پورې تعريف په خواږۀ او زړۀ پورې ژبه کښې پېش کولی شي.

په انسائيکلوپيډيا برېټانيکا کښې د تکل (Essay) په حقله داسې ليکلي شوي دي:

"A literary composition of moderate length dealing in an essay, cursory way with a single subject, usually representing the writer's personal experience and out look. The form was invented in the last 16th century by the French writer Michel de Montaigne who chose the name essai to emphasize that his

compositions were attempts or endevours, feeling their way towards the expression of his personal thoughts and experiences"(6).

ترجمه: (تکل یوه داسې ادبي لیکنه وي چې مېنځ کوره اوږدوالی لري دا د اېجاز د لارې یوستوی مضمون وي چې عموماً د لیکوال په ورچنیو او ذاتي تجربو اړه لري، دا صنف په شپاړسمه پېړۍ کښې یوۀ فرانسیسي لیکوال مائیکل ډي مونتین په وړومبي ځل مخې ته راوستی، هغۀ ورته دا نوم "اسائي" ځکه خوښ کړو چې دا جوته کړي چې د هغۀ دا لیکنې یا دا هڅې د هغۀ ذاتي احساسات، تجربات او خیالات دي).

د انسائیکلوپېډیا برېټانیکا د دغه حوالې نه چې د تکل په اړه کومې بنیادي خبرې مخې ته راځي هغه دا دي:

(1) تکل د مناسب طوالت یو ادبي مضمون وي.

(2) دا په یوه مخصوصه او یواځینۍ موضوع لیکلی شي.

(3) په دې لیك کښې عموماً د لیکوال داخلي تجزیې را مخې ته کوي.

(4) د دې صنف اېجاد او ابتدا د فرانس لیکونکي مائیکل ډي مونتین د شپاړسمې عیسوي صدۍ په اواخرو کښې کړې وه.

(5) دې صنف ته مونتین د "اسائي" نوم ورکړی ؤ.

(6) د مونتین تر مخه دې صنف کښې د داخلي تجربو، خیالاتو او تصوراتو د اظهار هڅه کولی شوه.

(7) د داسې خیالاتو او تجرباتو اظهار چې هغه د لیکونکي په داخلیت او ذاتي تشخص دلالت وکړي.

د انسائیکلوپېډیا برېټانیکا دغه تعریف ډېر واضح دی چې چرته په کښې هم د طنز و مزاح یا ټوقو ټقالو خبره نۀ ده شوې البته که کوم لیکوال په خپل انداز بیان کښې شګفتګي او خوند پیدا کول غواړي نو هم د تکل په صنف کښې کېدلی شي، خو تکل صرف د طنز و مزاح یا ټوقو ټقالو نوم نۀ دی. دلته د اردو د څو نامورو نقادانو تعریفونه هم وړاندې کول ضروري ګڼم او بیا به د ډاکټر اسرار صاحب د تکل په تکل کښې په حواله د تکل وضاحت کوو، اردو کښې د تکل لوی لیکوال او نقاد ډاکټر وزیر اغا لیکي:

*"دراصل اسلوب کی شگفتگی یا اس میں طنز و مزاح کی آمیزش کو انشائیہ کیلئے ناگریز قرار دینا کسی صورت بھی مستحسن نہیں ہے. انشائیہ میں طنز کی کاٹ یا مزاح کی پھلجھڑی کا در آنا انشائیہ نگار کے خاص موڈ یا مزاج کا رہین منت ہوتا ہے"(7).*

ډاکټر انور سدید داسې لیکي:

"نقصان یہ ہوا کہ اسلوب کی شگفتگی کو طنز و مزاح کا مترادف تصور کرلیا گیا، چنانچہ انشائیہ اور طنز و مزاح کی حدود کو آپس میں گڈ مڈ ہونے کا موقع مل گیا، یہاں اس بات کی وضاحت ضروری ہے کہ مزاح در اصل ایک مضحک فعل، اور طنز غیر معمولی سنجیدہ عمل ہے، انشائیہ ان دونوں عوامل سے فائدہ تو اٹھاتا ہے لیکن انہیں اپنے اصل مزاج پر غالب نہیں آنے دیتا"(8).

د اردو د دغو نامورو نقادانو د حوالو نه هم جوته شوه چې تکل د ښایسته ژبې، شګفتګۍ، روانۍ او د بیان د خوږلت تقاضه خو کوي خو د ټوقو ټقالو ضرورت یې بنیادي عنصر نۀ دی لکه چې زمونږ لیکونکي یې عملي څرګندونه کوي، اوس د دغو بنیادي او عالمي ادب د تعریفونو نه پس د ډاکټر اسرار صاحب د اندازِ بیان، د ژبې د خوږلت او شګفته تحریر په ذریعه ګورو چې هغه د تکل په تکل کښې کوم ځای ته رسي او د تکل په حقله څۀ وايي:

"د تکل د تعریف او صنفي مزاج په حقله ډاکټر اسرار صاحب ډېر په خوند خوند د ویلیم هنري هډسن د کتاب An Introduction to the study of literature حواله ورکوي او بیا په خپله د تکل په خولۀ د تکل کړۀ وړۀ بیانوي هغه وايي چې هر چا نه د پوښتنو نه پس مې چې د تکل نه پوښتنه وکړه چې تۀ څۀ شی یې نو تکل راته په خپله داسې ګویا شو

"زما مثال د نثري غزل یا سندرې دی، یوه داخلي تجربه یم، خارجي میدان مې مضمون او مقالې ته پرېښی دی، زۀ د خپلې ژورې مشاهدې د ښکاره کولو دپاره ښکلې ښکلې ټکې، خوندورې فقرې، زړۀ راښکونکي تشبیهات، استعارې، محاورې، متلونه، ټوقې ټقالې، تلمیحات او د فصاحت او بلاغت ملغلرې را ټولوم او په رموز رموز کښې د کار خبرې کوم، د خبرې نه خبره او د خیال نه خیال را اېستل خلق زما نه زده کوي، د بې مغزه بې مقصده فضول ګپ نه لرې لرې تښتم، په خپل چرت کښې په ازادۍ سره د خپل مافی الضمیر د اظهار قائل یم.

په دې وجه راته "جانس" د تخیل پرانستې زغاښت، بې قاعدې، ناهضم شوي لیك ټوټه وئیلې دي، خو اوس ما د ارتقاء ډېر ګامونه اخستي دي ځکه خو مورې راته په خپله ډکشنري کښې د نوي بدلون په رڼا کښې د محدود وسعت د لږ یا ډېر محنت سره جوړه شوې لیکنه وايي، زما ازاد طبعیت او زما د زړۀ ارت والي ته چې کریب کتلي دي نو زۀ یې ډېر ازار صنف ګڼلی یم، او زما د ډېر شهرت وجه دا ښايي چې کوم لیکوال لیاقت نۀ لري او خپله موضوع پسې تر لرې لټون نۀ شي کولی نو زۀ د هغۀ سره جوړېږم... زما د اختصار مطلب سطحیت هیڅ کله هم نۀ دی دا خبره سان بو هم کړې ده، هغه ما یو ډېر زیات مشکل ولې خوشحالي بخښونکی ژانر ګڼي، هغه دا نۀ مني چې ګڼی د اختصار مطلب سطحیت دی، هغه زما خوبي په لږ څۀ کښې ډېر څۀ ځایول، او په اختصار کښې جامعیت، ګڼي زۀ په خپله نامکملتیا کښې هم لوستونکي ته د

مکملتیا احساس وربخښم، زۀ موضوع ته نېغ په نېغه نه ورلاندې وځم، دا نۀ چې زۀ د موضوع نۀ وېرېږم، د موضوع سره لوبې کول ما له مزه راکوي"(9).

دغه بیان نه پس تکل په خپله ژبه د ډاکټر اسرار د خیالاتو ترجماني کوي او د تکل کړۀ وړۀ په داسې شکل څرګندوي چې د لوستونکو ذهن ته په اسانه اپیل کوي، تکل داسې ګویا کیږي:

"زۀ دومره مشکل نۀ یم څومره چې د سان بو خیال دی، زۀ په لیکوال باندې د قدغن لګولو په حق کښې نۀ یم چې څۀ یې خوښه وي لیکي دې او چې څومره د علم او پوهې خزانې ورسره وي راتشوي دې او چې د خپلې مشاهدې او تجربې څومره قیمتي ملغلرې ورسره وي را دوړوي دې، خو زما د نازك فني وجود لږ خیال دې ساتي ځکه چې زۀ په حقیقت کښې هم د هغۀ خپل تصویر یم، د هغۀ د احساساتو هینداره یم.

زما مطالعه په حقیقت کښې د هغۀ د شخصیت، د هغۀ د فنکارۍ، د هغۀ د عقل، تجربې، مشاهدې او د هغۀ د جمالیاتي ذوق، د هغۀ د تخلیقي قوت، د هغۀ د اسلوب، د هغۀ د خیالاتو او د هغۀ د نړۍ لید مطالعه ده"(١٠).

د ډاکټر اسرار د دغه شګفته انداز وړاندې کولو نه مخکښې مونږ د تکل په حقله ځنې حوالې هم وړاندې کړې دي اوس د دغو حوالو او د ډاکټر اسرار صاحب د بیان نه په اسانه جوتیږي چې ډاکټر صاحب د تکل، انشائیې یا (Essay) په حقله دغه علمي مباحث لوستي دي او بیا د خپلې مطالعې په بنیاد یې دغه معلومات او علمي ذخیره د خپل ذات او شخصیت برخه جوړه کړې ده او بیا یې د تکل په چوکاټ کښې هغه ټولې علمي خبرې کړې دي کومې چې په انګرېزي او اردو ژبو کښې د علمي او تحقیقي ادب برخه ده.

## د ډاکټر اسرار تکل نګاري

د دې بحث نه پس چې مونږ د ډاکټر اسرار د تکلونو دوېم اړخ یعني د ډاکټر اسرار تکل نګارۍ ته راځو نو هم راته احساس کیږي چې ډاکټر صاحب په پښتو کښې تکل یوازې د تفریح او طنز و مزاج یا ټوقو ټقالو د اظهار دپاره نۀ دی لیکلی بلکې د تکل په ژبه یې ډېرې علمي مباحثې رامخې ته کړې دي چې یو خوا په کښې د ډاکټر اسرار د ژورې مشاهدې لاس دی نو بل خوا په کښې د هغۀ د خورې مطالعې او علمي تبحر اثر دی، د ښاغلي ګل محمد بېتاب دا رائې درسته ده چې:

"د ډاکټر اسرار دې تکلونو کښې نۀ صرف دا چې د تکل اصول او قاعدې په نظر کښې نیولې شوې دي، بلکې په دې کښې به تاسو د تحقیق او تنقید اضافه هم ووینئ چې دا بېخي یو نوی ستائیل دی.... او دا شان که وکتلی شي نو دې سره هغۀ د ادب دې نظر انداز کړی شوی او

هېر شوی صنف له نوي سره ژوند ورکړو، او په وړومبي ځل يې د نورو ليکونکيو پام دې خوا ته را وګرځولو او دا خبره يې ثابته کړه چې يو ليکوال که وغواړي نو په تکل کښې هم تنقيد او تحقيق په داسې انداز کښې کولی شي چې هم ترې بنده خوند اخستلی شي او هم ښهٔ ګټور معلومات"(11).

د پښتو نامور ترقي پسند نقاد ښاغلي سليم راز صاحب په کال 1996ء کښې د ډاکټر اسرار د تکلونو دغه علمي اړخ ته اشاره کړې وه او د تکل تعريف او وضاحت په لړ کښې د ډاکټر اسرار د اسلوب او انداز ستائينه يې کړې وه هغهٔ ليکلي دي چې:

"اوسه پورې د انشائيو يوه مجموعه چاپ شوې ده او هغه د ډاکټر اسرار "د تکل په تکل کښې" ده چې يو معيار ئې هم په کښې برقرار ساتلی دی، هم په دې کتاب کښې د انشائيې په حقله يوه انشائيه "د تکل په تکل" کښې شامله ده او زما په خيال د انشائيې په موضوع يو مکمل ليك دی او د انشائيې متعلق خپلو لوستونکيو ته پوره پوره معلومات ورکوي، ډاکټر اسرار د انشائيې په اسلوب کښې د انشائيې په اسلوب ښهٔ جامع او مفصل بحث کړی دی، او د انشائيې تعريف (Defination) يې د انشائيې خپله ژبه هم انشايائي لهجه کښې کړی دی، دا هم انشائيه ده او هم د انشائيې په موضوع يو تنقيدي ليك..."(12).

سليم راز صاحب خپله رائې عموماً د ډاکټر اسرار د يو تکل "د تکل په تکل کښې" په حقله ورکړې ده او د ډاکټر اسرار په مجموعي تکل نګارۍ ئې څهٔ نهٔ دي وئيلي، ډاکټر حنيف خليل د ډاکټر اسرار د مجموعي تکل نګارۍ په حقله تبصره کړې ده او خپله رائې په خپل اردو کتاب "*پشتو زبان و ادب کی تاریخ*" کښې ورکړې ده چې دې لړ کښې زمونږ لارښودنه کوي، د ډاکټر حنيف خليل د رائې تر مخه ډاکټر اسرار د تکل نګارۍ په مېدان کښې په پښتو کښې هډو خپل سيال نهٔ لري بلکې په اردو ادب کښې يې هم د وړومبي صنف د تکل ليکونکو سره په سيالۍ کښې پېش کولی شو، هغه د ډاکټر اسرار د تکل نګارۍ په خصوصياتو فن، اسلوب او انفراديت د تبصرې په وخت ليکي:

*"ڈاکٹر محمد اسرار کا نام اور انشائیہ لازم و ملزوم ہیں، انشائیہ کا صحیح تعارف پشتو ادب میں ڈاکٹر اسرار ہی نے کیا ہے اور انشائیہ کے مزاج کو پوری طرح اسرار ہی نے گرفت میں لیا ہے، اگر ہم اردو کے انشائیہ نگاروں، جیسے ڈاکٹر وزیر آغا، مشکور حسین یاد، ابن انشاء یا مشتاق احمد یوسفی، کرنل محمد خان اور یونس بٹ کا اسلوب نثر مد نظر رکھیں تو ہمارے ہاں صرف ڈاکٹر اسرار ان کی برابری کر سکتے ہیں، جس نے پشتو میں اس طرز کی نثر اور معیاری انشائیہ نگاری کے وجود کو ممکن بنا دیا۔ ڈاکٹر صاحب نے پشتو انشائیے کو جو معیار اور اسلوب عطا کیا ہے کوئی اس کی مثال پیش نہیں کر سکتا، کیونکہ ان*

کے انشائیوں میں زبان کی شائستگی، جملوں کی برجستگی اور برمحل استعمال، مزاح کا لطیف رنگ اور طنز کے نشتر اس مہارت سے چلے ہیں کہ طنز سے متاثرہ اور متعلقہ اشخاص کو بھی احساس نہیں ہوتا بلکہ ڈاکٹر صاحب کے دلچسپ طرز تحریر کو مزے لے لے کر پڑھتے اور سنتے ہیں، اس دلچسپ طرز تحریر کے ساتھ ساتھ ڈاکٹر صاحب کے انشائیوں میں مطالعہ کی جو وسعت اور مشاہدے کی جو گہرائی موجود ہے وہ پشتو کے کسی انشائیہ نگار میں نظر نہیں آتی"(۱۳).

د ډاکټر صاحب د تکلونو په حقله د دغو دوو نقادانو د رائې په مرسته کښې د ډاکټر صاحب د ځنو تکلونو جائزه اخلو او د هغهٔ په تکل نګارۍ لنډه تبصره کوو.

د ډاکټر اسرار صاحب د تکل نګارۍ په حقله د دغه مجموعي تبصرې نه پس که د هغهٔ د يو يو تکل تنقيدي جاج اخلو نو خبره به ډېره اوږده شي خو بيا هم د هغهٔ د تکل نګارۍ د مجموعي تاثر او د هغهٔ فني ګرفت څرګندولو دپاره د څو تکلونو تذکره ضروري ده. په دغو تکلونو کښې يوازې په ادبي موضوعاتو بحث نهٔ دی شوی بلکې د ادب نه علاوه په کښې د نفسياتو، سماجياتو، سياست، مذهب او نورو ټولنيزو مسئلو ترجماني هم د تکل په ژبه شوې ده، خو مونږ دلته د هغهٔ د ادبي موضوعاتو نمائنده څو تکلونو يادونه کوو.

سريزه نګاري د ډاکټر اسرار صاحب يو ښکلی تکل دی چې په کښې يې د تکل په چوکاټ کښې ډېرې علمي خبرې کړې دي په دغه تکل کښې هغهٔ د ادبي تنقيد کړهٔ وړهٔ هم واضح کړې دي، د سريزو ديباچو او مقدمو په اهميت خوبيو او خاميو يې هم خبرې کړې دي او په پښتو کښې چاپ کېدونکو ځنو کتابونو باندې د سريزو مقام او معيار ته يې هم ډېر په خواږه او روانه ژبه کښې اشارې کړې دي، دغه شان هغهٔ د سريزه نګارو ځنې خامۍ هم په داسې انداز په ګوته کړې دي چې د کتاب د اهميت د زياتولو په ځای د کتاب اهميت ته زيان رسوي، د دغه تکل يوه ټکړه وګورئ:

"د ادبي کتاب دپاره سريزه ضروري ده او که نهٔ ده خو تقريباً هر ادبي کتاب سريزه لري، ځنې کتابونه خو د يوې سريزې په ځای څو څو سريزې لري.

لوستونکي کتاب دې پاره اخستی وي چې د مصنف د فن او خيالاتو نه خوند واخلي، خو د مصنف د فن ګلش ته د رسېدو نه مخکښې هغه په سريزه نګارانو پېښ شي، لکه سړی چې د مال منډۍ نه د څهٔ ګډې يا بيزې او يا د غوا، مېښې اخستو دپاره لاړ شي او هلته په دلالانو واوړي او بيا د هغوی نه ځان نهٔ شي خلاصولی. دا د مېلو د لالان د څاروي دومره تعريفونه را واخلي چې يو خوا د څاروي مالك زړهٔ کښې وايي چې ياره نهٔ يې خرڅوم او بل خوا اخستونکی داسې ړوند کوڼ شي چې وچه غوا د لنګې او لټ غوايي د روغ غوايي په نرخ واخلي، داسې

سریزه نګاران هم د يو غير معروف اديب شاعر دومره ستائينه وکړي چې هغه ليکونکی بيا د حمزه صاحب او قلندر مومند صاحب نه ځان کم نۀ ګڼي"(14).

"د ډائمنډ جوبلي مشاعره" د ډاکټر صاحب يو بل شاهکار دی چې په کښې يې د اسلاميه کالج پېښور د ډائمنډ جوبلي په موقع د منعقد شوې مشاعرې حال بيان کړی دی. په وړومبي نظر کښې خو دا تکل د يو رپورټ، روداد يا رپورتاژ تاثر ورکوي خو د ډاکټر اسرار صاحب د فني حربو، د جملو استعمال او د مزاج لطافت دغه روداد نه يو ښکلی تکل جوړ کړی دی، په دغه مشاعره کښې چې د پښتو مشرانو شاعرانو سره د الغاؤ تلغاؤ په نتيجه کښې کوم سلوک شوی دی د هغې په نتيجه کښې ډاکټر صاحب د ډائمنډ جوبلي مشاعرې ته دغوئمنډ جوبلي مشاعره وئيلې ده او دغسې ځنې ادبي روئيو او طالب علمانو معيار او مزاج ته يې په طنزيه انداز کښې اشارې کړې دي.

غزل نګارې د ډاکټر اسرار صاحب يو داسې تکل دی چې په خوند خوند يې په کښې د غزل په فني لوازماتو هم خبرې کړې دي او د پښتو غزل په معيار او مزاج يې هم تبصره کړې ده، د دغه تکل يوه ټوټه په دې ډول ده:

"د غزل نګارۍ لوبه دومره اسانه نۀ ده څومره چې مونږ ګڼلې ده، د دې لوبې خپله طريقه او خپل اصول او قواعد دي، په دې ميدان کښې د قافيو، رديفونو او بحرونو کلك خنډان او بوټکي ولاړ دي، په دې لار باندې د خوشحال بابا خبره چې د ښو ښو شهسوارانو پښې رېږي او په دې ملا کنډ باندې ورختل د شل او ګوډ کار نۀ دی. دا بېله خبره ده چې څوك شلی يا ګډی په چا تجربه کار شهسوار پورې شا ته ونښلي او خپل نوم په غازيانو کښې وليکي، په نورو پسې ننښتل او د هغوی ړوند تقليد او پېښنو ته که ادا کاري وئيلی شي خو غزل نګاري ورته نۀ شي وئېل کېدی، غزل نګاري په يو مخصوص انداز او نازك چوکاټ کښې د تخليقي عمل اظهار دی، په يو ادبي تخليقي زيار کښې فنکار د خپلو مزغو د خليو نه کار اخستی وي او د خپل زړۀ حقيقي اوازونه يې تجسيم کړي وي، د پردې اواز په نقل او په خپل اواز کښې ډېر فرق وي، د پښتو غزل ډېر اوږد سفر کړی دی که غزل ځان سره د ايران نه د علامتونو، تلميحاتو، تشبيهاتو او د حسن و عشق د مضامينو او د هغې سره د تصوراتو او مفاهيمو يوه درنه پنډه راوړې ده، نو زمونږ مشرانو دا پنډه په پښتني فکر او پښتني تلميحاتو استعارو او کنايو لاغني کړې ده او غزل يې د پښتو مزاج سره داسې برابر کړی دی چې نن په پښتو شاعرۍ د غزل حکمراني ده"(15).

"ګوئم مشکل و ګرنه ګوئم مشکل" نومې تکل کښې چې ډاکټر اسرار صاحب د سېد رسول ناڅاپه صاحب د کتاب د مينې کچکول کومه تنقيدي جائزه د تکل په ژبه اخستې ده د دې مثال په پښتو ادب کښې کم موندی شي، دا يوه داسې جائزه ده چې د ډاکټر اسرار د طنز او تنقيد په

مزاج په خپله ناڅاپه صاحب هم تر ډېرې مودې نۀ ؤ پوه شوی خو په بین السطور کښې ډاکټر صاحب د هغۀ د کتاب او شاعرۍ مکمله سرجري کړې وه، دا د تنقيد يو داسې انداز دی چې په فن يې يوازې ډاکټر اسرار پوهيږي.

د ډاکټر اسرار دې کتاب کښې شاملو تکلونو کښې که زما ډائرې د زېر حسرت د غزل زار مخ کتنه، ورکه مينه، ½ غزل ګو، دا مجذوب دی او تنقيد هم په دغه تناظر کښې ولوستی شي نو يو خوا به ترې د ډاکټر صاحب د مزاج او د تکل په صنف د هغۀ د فني ګرفت نشاندهي په اسانه وشي او بل خوا به د ډاکټر صاحب د دور ادبي ماحول، معيار او مزاج هم په ډېره ښه توګه راجوت شي، دغو تکلونو نه علاوه "ټوخی" د ډاکټر اسرار صاحب يو د اعلیٰ معيار تکل دی چې موضوع يې ادبي نۀ ده خو د ډاکټر صاحب ژورې مشاهدې او ځنې ادبي مثالونو دغه تکل يو شاهکاره ادبي ټوټه ګرځولې ده. ښاغلی مشتاق مجروح د ډاکټر اسرار د دغه تکل نه دومره متاثر شو چې په تقليد کښې يې په "ټوخي" يو ځان ته تکل وليکلو او په خپل کتاب تکل دسته کښې يې چاپ کړو، اوښکې او اجزائې ترکيبي هم د ډاکټر صاحب د تکل په صنف د دوی ګرفت ښودنه کوي، په لنډه توګه به دا ووايو چې ډاکټر اسرار په پښتو کښې د تکل په صنف نۀ يوازې پراخه مطالعه لري بلکې د تکل په ليك او تخليق هم پوره ګرفت لري او په داسې صورتِ حال کښې دې رائې جوړولو کښې هيڅ باك نۀ محسوسيږي چې ډاکټر اسرار د پښتو تکل يو داسې ليکونکی دی چې منفرد دی او خپل مثال په خپله دی.

***

# حوالي

(1) بېتاب، گل محمد، دا تکلونه، مشموله د تکل په تکل کښې، اولسي ادبي ټولنه مردان، 1994ء، ص الف.

(2) خلیل، حنیف، پشتو زبان وادب کی تاریخ، یونیورسٹی پبلشرز، پشاور، 2009ء، ص328، 329.

(3) حسرت، محمد زبېر، اولسي ادبي جرګه، تحقيق او تنقيد، د ادبي دوستانو مرکه مردان، ستمبر 1998ء، ص95.

(4) اسرار، ډاکټر، د تکل په تکل کښې، ص2، 3.

(5) هم دغه، ص4.

(6) Encyclopaedia Britanica, v 4, 1985, p 562.

(7) وزیر، آغا، ڈاکٹر، دیباچہ مشمولہ جدید اردو انشائیہ (مرتبہ اکبر حمیدی) اکادمی ادبیات پاکستان، ستمبر 1991ء، ص6.

(8) سدید، انور، ڈاکٹر، جدید اردو انشائیہ، ص6.

(9) اسرار، ډاکټر، د تکل په تکل کښې، ص 7 تا 9.

(10) هم دغه، ص9.

(11) بېتاب، گل محمد، دا تکلونه، مشموله، د تکل په تکل کښې، ص ا، ب.

(12) راز، سليم، انشائيه اور پشتو ادب، خېسور کراچۍ جلد درېم، ګڼه نمبر6، جولائي 2005ء، ص50، 51.

(۱۴) خلیل، حنیف، پشتو زبان وادب کی تاریخ، ص334، 335.

(15) اسرار، ډاکټر، د تکل په تکل کښې، ص35، 36.